مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سیف قاضی زاده

۲۰۲۶/۰۹/۲۲

# د نیپال د وروستي مرګوني سېلاب تجربه

## او د هندوکش لهپاره يې درسونه؛

## (د اقلیمي بدلون، مرکبو غرنیو خطرونو، اوبو امنیت او د افغانستان معضل)

سریزه:

اقلیمي بدلون (Climate Change) په معاصر عصر کې یوازې د تودوخې د درجې د لوړوالي یا د اورښتونو د بڼه د بدلون مسئله نه ده ؛ بلکې د طبیعي خطرونو په ماهیت ، شدت ، تکرار او جغرافیایي پراختیا کې هم ژور بدلونونه رامنځته کوي . په ځانګړي ډول غرني سیستمونه ، لکه هیمالیا او هندوکش ، د اقلیمي بدلون پر وړاندې ډېر حساس دي ، ځکه د دغو سیمو یخچالونه(Glaciers) ، واوره ، دایمي کنګل شوې ځمکه (Permafrost) ، غرني جوړښتونه او سیندیز سیستمونه له یو بل سره نږدې تړاو لري . کله چې په دغو عناصرو کې بدلون رامنځته شي ، پایلې یې یوازې په یوه برخه کې نه پاتې کېږي؛ بلکې له یوه خطر څخه بل خطر ته د انتقال په بڼه د مرکبو او زنځیري ناورینونو زمینه برابروي .

د نیپال او تبت پر پوله وروستی مرګونی سېلاب د همدې نوي وضعیت یو مهم مثال دی . دغه پېښه ښيي چې یو غرنی ناورین کېدای شي د سختو بارانونو له مستقیم اغېز پرته هم رامنځته شي او د یخچالونو، ډبرو ، واورو ، رسوباتو ، طبیعي بندونو او سیندونو د متقابل تعامل په پایله کې په چټکی سره پراخ ویجاړونکی اغېز پیدا کړي . له همدې امله ، د نیپال تجربه یوازې د یوه طبیعي ناورین مطالعه نه ده ؛ بلکې د هغو احتمالي خطرونو لپاره هم مهم درس وړاندې کوي چې د هندوکش په غرنیو سیمو کې د اقلیمي بدلون له دوام سره رامنځته کېدای شي .

د افغانستان لپاره د دې مسئلې اهمیت لا زیات دی ، ځکه د هېواد د ډېرو مهمو سیندونو سرچینې د هندوکش په لوړو غرنیو سیمو کې دي . په دې معنا ، د هندوکش د غرونو اقلیمي او جیولوژیکي ثبات د افغانستان د اوبو ، کرنې ، انرژۍ ، اقتصاد او په پای کې د ملي امنیت له وضعیت سره مستقیمه اړیکه لري .

له همدې امله ، د نیپال د پېښې علمي تحلیل کولی شي د افغانستان د اقلیمي مقاومت (Climate Resilience) ، د اوبو امنیت (Water Security) او د طبیعي خطرونو د مدیریت لپاره مهمې ستراتیژیکي لارې چارې وړاندې کړي .

د نیپال د مرګوني سېلاب علمي جوړښت ;

د نیپال او تبت پر پوله وروستی مرګونی سېلاب یوازې د سختو بارانونو پایله نه وه ، بلکې د غرنیو او یخچالي خطرونو د یوې پېچلې او څو پړاویزې لړۍ په پایله کې رامنځته شو . د لومړنیو علمي ارزونو له مخې ، د پېښې اصلي محرک د سمندر له سطحې څخه شاوخوا ۵۲۰۰ مترو په لوړوالي کې د یخ او ډبرو یوه ستره ښوییدنه وه . د لیرونګ له غرني جوړښت څخه د یوه لوی یخچال او د هغه لاندې د ډبرین بنسټ شاوخوا له یو تر ۱.۳ کیلومترو پورې پراخه برخه جلا او د غره لمنې ته رابنکته شوه .



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د یخ ، ډبرو او رسوباتو دغه ستره ډله په لوړ سرعت د درې پر لور حرکت وکړ او د درې په تل کې یې له هغو رسوباتو سره یوځای کېدل چې د ۲۰۲۵ کال د پوریپو د یخچالي جهیل د ناڅاپي ماتېدو له سیلاب (Glacial Lake Outburst Flood – GLOF)څخه پاتې وو ، د سیند مسیر د لنډ وخت لپاره بند کړ . په دې توګه یو طبیعي او ناپایدار آوارو بند (Natural Debris Dam) رامنځته شو . کله چې دغه موقتي بند مات شو ، زېرمه شوې اوبه ، ختې ، ډبرې او نور رسوبات د یوې پیاوړې سیلابي څپې په بڼه د درې لاندې برخو ته ورخوشې شول او پراخ ویجاړونکې اغېز یې رامنځته کړ .

د پېښې دغه تسلسل د مرکبو خطرونو (Compound Hazards) یوه څرګنده بېلګه ده . په داسې حالت کې ناورین د یوه واحد عامل له امله نه رامنځته کېږي؛ بلکې یو خطر د بل خطر لپاره شرایط برابروي او په پای کې څو طبیعي پروسې یو له بل سره یوځای کېږي . یخچالي یا غرنۍ ثبات کمېږي ، د یخ او ډبرو ښویېدنه رامنځته کېږي ، د سیند مسیر بندېږي ، طبیعي بند جوړېږي او وروسته د هغه د ماتېدو له امله د اوبو ، ختو او ډبرو یوه ناڅاپي او ویجاړوونکې څپه رامنځته کېږي .

له همدې امله ، د غرنیو سیمو د طبیعي خطرونو ارزونه باید یوازې د سیلاب یا ځمکښویدنې په جلا توګه پر مطالعه محدوده نه وي ؛ بلکې د دغو خطرونو ترمنځ د متقابلې اړیکې او د یوه خطر له بل څخه د رامنځته کېدو احتمالي زنځیر باید هم په پام کې ونیول شي . همدې وضعیت ته په علمي ادبیاتو کې زنځیري خطرونه (Cascading Hazards)ویل کېږي .

اقلیمي بدلون ، د یخچالونو شاتګ او د غرونو بېثباتي ؛

د نیپال د پېښې تر شا یوازې یو ناڅاپي غرنۍ سقوط نه و ، بلکې اوږدمهاله اقلیمي او چاپېریالي بدلونونه هم د پام وړ دي . د اقلیمي بدلون له امله د هیمالیا یخچالونه په عمومي ډول د شاتګ (Glacier Retreat) له بهیر سره مخ دي او د پرمافراست - (Permafrost) دایمي کنګل شوې ځمکه (ویلي کېدل د غرونو د لمنو طبیعي ثبات کموي .

هغه یخچال چې په دې پېښه کې ښکېل و، د ۱۹۹۰ او ۲۰۲۰ کلونو ترمنځ شاوخوا ۴۵۰ متره شاتګ کړی و . دغه شاتګ ښایي د لاندې ډبرینې لمنې طبیعي میخانیکي ملاتړ کم کړی او د هغې د بېثباتۍ زمینه یې برابره کړې وي . له بلې خوا، د لوړو ارتفاع لرونکو سیمو د تودوخې زیاتوالی کولی شي د یخ او واورو د ذوب بهیر چټک کړي او د غرنیو جوړښتونو پر ثبات اغېز وکړي .

البته د لوړو غرنیو سیمو د اوږدمهالو او دقیقو معلوماتو محدودیت دا ستونزمنوي چې د یوې ځانګړې پېښې په رامنځته کېدو کې د اقلیمي بدلون مستقیمه ونډه په دقیقه توګه اندازه شي . خو د یخچالونو شاتګ ، د پرمافراست (Permafrost )تخریب او د تودوخې د زیاتوالي ترمنځ اړیکه د راتلونکو غرنیو خطرونو د ارزونې لپاره جدي علمي اهمیت لري .

په دې معنا ، اقلیمي بدلون باید یوازې د یوه مستقل خطر په توګه ونه کتل شي؛ بلکې د نورو طبیعي خطرونو د شدت د زیاتېدو یو محرک (Risk Amplifier) هم ګڼل کېدای شي . د تودوخې زیاتوالی د یخچالونو او پرمافراست وضعیت بدلوي، د غرونو ثبات کموي ، د ځمکښویدنو او ډبرو د ښویېدنې احتمال زیاتوي او د واورو او یخونو د ذوب له امله د سیندونو موسمي جریان بدلوي . که دغه عوامل له شدیدو ورښتونو یا نورو جیولوجیکي پېښو سره یوځای شي ، د عادي سیلاب پر ځای مرکب ناورین رامنځته کېدای شي .

د لومړني خبرداري نوې اړتیا ؛

د نیپال پېښې یوه مهمه ځانګړنه دا وه چې د سیلاب څپه په ځینو سیمو کې د صاف اسمان او بېبارانه هوا په شرایطو کې راورسېده . دا وضعیت د طبیعي خطرونو په اړه د عامه پوهاوي یوه مهمه ستونزه څرګندوي ، ځکه په ډېرو ټولنو کې سیلاب لا هم له سختو بارانونو سره په مستقیم ډول تړل کېږي . کله چې باران نه وي، خلک ښایي د خطر احتمال کم وبولي او د خبرداري پر وړاندې لازم اقدام ونه کړي .
له همدې امله ، د لومړني خبرداري سیستم (Early Warning System) بریا یوازې د تخنیکي وړاندوینې پر دقت پورې اړه نه لري . د خلکو د پوهاوي ، د خبرداري د اعتبار ، د خطر د درک او د عملي اقدام وړتیا هم د


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

سیستم مهم عناصر دي . په غرنیو سیمو کې باید خلک یوه شي چې خطر ممکن د دوی له سیمې څخه په ډېره لږې بالادست برخه کې رامنځته شوی وي، خو اغېزې یې د سیند له لارې په ډېر لنډ وخت کې د دوی سیمې ته ورسېږي .

د راتلونکو پېښو لپاره باید څو-خطره لومړني خبرداري سیستمونه (Multi-Hazard Early Warning Systems – MHEWS)رامنځته شي چې یوازې باران او هوا ونه څاري، بلکې د یخچالونو ، واورو ، ځمکښوېدنو، سیندونو او طبیعي بند جهیلونو وضعیت هم تعقیب کړي . د لوړ وضاحت لرونکي سپوږمکیزو انځورونو (High-Resolution Satellite Imagery)، لیرې سنجش (Remote Sensing) ، جغرافیایي معلوماتي سیستم (Geographic Information System – GIS) ، د راداري انټرپفیرومټري تخنیک (Interferometric Synthetic Aperture Radar – InSAR)او اتومات هایدرولوژیکي سټېشنونو ګډ استعمال کولی شي د خطرونو د ژر تشخیص زمینه برابره کړي .

له هیمالیا څخه تر هندوکش ؛( د افغانستان لپاره احتمالي درسونه) :

د نیپال تجربه د افغانستان لپاره ځکه مهمه ده چې افغانستان هم د هندوکش له غرني سیستم سره تړاو لري. د هېواد یو شمېر مهمې سیندیزې حوزې (River Basins) د هندوکش له لوړو غرونو څخه سرچینه اخلي او د دغو حوزو د اوبو موسمي جریان په واورو، یخچالونو او ورښتونو پورې تړاو لري .

د کنړ ، پنجشېر ، کوکچې ، بدخشان ، هیلمند ، آمو ، او نورو سیندیزو سیستمونو په لوړو برخو کې د واورو ، یخچالونو ، تودوخې او جیولوجیکي جوړښتونو بدلونونه کولی شي د اوبو پر موسمي جریان او د ناڅاپي سېلابونو پر شدت اغېز وکړي . په ځانګړې ډول تنګې او ژورې درې چې استوګنیزې سیمې ، سړکونه ، پلونه ، کرنیزې ځمکې او نورې حیاتي زیربناوې پکې موقعیت لري ، د ناڅاپي غرنیو پېښو پر وړاندې لوړه زیانپذیري (Vulnerability) لري .

که په هندوکش کې د یخ ، ډبرو او رسوباتو لویه ښویېدنه د سیند بهیر بند کړي ، طبیعي بند رامنځته کړي او وروسته دغه بند مات شي ، لاندې سیمو ته د اوبو ، خټو او ډبرو ناڅاپي حرکت کولی شي له عادي موسمي سېلاب څخه ډېر زیات ویجاړونکی اغېز ولري . له همدې امله ، افغانستان باید د غرنیو خطرونو ارزونه د یوې څو-خطره (Multi-Hazard)تګلارې پر بنسټ ترسره کړي .

د افغانستان اقلیمي معضل ؛ د اوبو زیاتوالی او کمښت :

د افغانستان اقلیمي معضل یوازې د سېلابونو د زیاتېدو مسئله نه ده. د اقلیمي بدلون یوه مهمه ځانګړنه دا ده چې کولی شي په یوه جغرافیه کې د اوبو د زیاتوالي او کمښت دواړه خطرونه رامنځته کړي . د واورو او یخچالونو چټک ویلی کېدل په لنډ مهال کې د سیندونو بهیر زیاتولی شي او د سېلابونو خطر لوړولی شي ؛ خو په اوږد مهال کې د یخچالونو او دایمي واورو دوامدار کمښت د وچ موسم د سیندونو طبیعي تغذیه کموي .

په دې توګه ، افغانستان ممکن له داسې وضعیت سره مخ شي چې په یوه موسم کې د اوبو له زیاتوالي ، سېلابونو او ځمکښوېدنو سره او په بل موسم کې د اوبو له کمښت او وچکالۍ سره مخ وي . دا وضعیت د اقلیم ـ اوبو اړیکه (Climate–Water Nexus)په افغانستان کې په یوه ستراتیژیک بحث بدلوي .

د هندوکش د واورو او یخچالونو بدلون یوازې د غرنیو سیمو مسئله نه ده ؛ بلکې د هېواد د لاندې سیمو د کرنې ، څښاک اوبو، ځمکنیو اوبو، انرژۍ او اقتصادي فعالیتونو پر ثبات هم اغېز کولی شي . له همدې امله، د افغانستان د اوبو راتلونکی باید یوازې د کلني ورښت پر بنسټ ونه ارزول شي ، بلکې د غرونو د واورو ، یخچالونو ، تودوخې ، تبخیر او د سیندونو د موسمي جریان ټول بدلونونه باید په ګډه مطالعه شي .

اوبه امنیت ؛ د افغانستان د اقتصادي او ټولنیز ثبات بنسټ :
اوبه د افغانستان لپاره یوازې یوه طبیعي سرچینه نه ده ؛ بلکې د خوراکي امنیت (Food Security) ، انرژۍ امنیت (Energy Security) ، اقتصادي ثبات او ټولنیزې هوساینې بنسټ جوړوي . د هېواد د کرنې پراخه برخه د اوبو پر شتون متکي ده ، په داسې حال کې چې د انرژۍ د پراختیا یوه مهمه برخه هم د اوبو له منابعو سره تړاو لري .


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که اقليمي بدلون د اوبو موسمي جريانونه بې‌ثباته کړي ، د کرنې توليد ، د خوړو بيې، د کليوالو خلکو عايدات او د برېښنا توليد ټول اغېزمنېدای شي . د اوبو کمښت کولی شي د کليوالو سيمو اقتصادي فشار زيات کړي او د نفوس د داخلي او بهرني مهاجرت عوامل پياوړي کړي .

له همدې امله ، د افغانستان د اوبو امنيت بايد يوازې د بندونو د جوړولو په معنا ونه ګڼل شي . اوبه بايد د سينديزې حوزې د جامع مديريت (Integrated River Basin Management) له ليدلوري اداره شي . د هرې حوزې د سرچينې له غرونو څخه تر لاندې سيمو پورې بايد واوره ، يخچالونه ، بارانونه ، ځمکنۍ اوبه ، سيندونه ، د اوبو مصرف ، رسوبات او اقليمي بدلونونه په ګډه مطالعه شي .

د اوبو زېرمه کول د افغانستان لپاره مهم دي، خو د بندونو او زيرمو د جوړولو پر مهال بايد يوازې د اوبو حجم په پام کې ونه نيول شي . اقليمي بدلون ، رسوبات ، ځمکلړزې ، ځمکښوېدنې، ناڅاپي سېلابونه او د طبيعي بندونو احتمالي خطرونه هم بايد د هرې سترې اوبو پروژې د خطر ارزونې (Risk Assessment) برخه وي .

اقليمي مقاومت او د افغانستان د معضل مديريت ؛

اقليمي مقاومت (Climate Resilience) په دې معنا نه دی چې افغانستان به له وچکالۍ، سېلابونو او نورو طبيعي پېښو څخه په بشپړه توګه خوندي شي ؛ بلکې معنا يې دا ده چې هېواد بايد د دغو پېښو د اټکل، مخنيوي، چمتووالي، چټک غبرګون او بيا رغونې وړتيا ولري .

افغانستان تر اوسه په پراخه کچه له «ناوړين وروسته غبرګون» څخه کار اخلي، حال دا چې د اقليمي بدلون په شرايطو کې بايد د «ناوړين مخکې چمتووالي» ته لومړيتوب ورکړل شي . د خطرناکو درو نقشه‌برداري (Hazard Mapping)، د يخچالي جهيلونو څارنه ، د سيندونو اتومات سټېشنونه ، د سپوږمکيو پر بنسټ څارنه او د خلکو لپاره د لومړني خبرداري سيستم بايد د اقليمي مقاومت د ملي جوړښت برخه شي .

په دې برخه کې د هندوکش د غرونو لپاره يو ملي جغرافيايي او اقليمي ډېټابېس جوړول ځانګړې اهميت لري . دغه سيستم بايد دGIS ، Remote Sensing، InSAR، هايدرولوژيکي معلوماتو ، اقليمي معلوماتو او جيولوجيکي معلوماتو ترمنځ ارتباط رامنځته کړي . د داسې معلوماتي سيستم په شتون کې به د خطرناکو سيمو پېژندنه، د احتمالي سېلابونو مسير ټاکل او د خلکو د تخليې لپاره د مناسب پلان جوړول اسانه شي .

له اقليمي امنيت څخه تر ملي امنيت پورې :

په افغانستان کې اقليمي بدلون په تدريجي ډول د ملي امنيت له مسئلې سره تړل کېږي . د اقليم ـ امنيت اړيکه (Climate–Security Nexus)ښيي چې چاپېريالي فشارونه کولی شي اقتصادي او ټولنيزې ستونزې پياوړې کړي او په پايله کې د امنيتي بې‌ثباتۍ زمينه برابره کړي .

د اوبو کمښت د کرنې توليد کموي ؛ د کرنې کمښت اقتصادي فشار زياتوي ؛ اقتصادي فشار بې‌وزلي او مهاجرت زياتوي ؛ او د منابعو پر سر سيالي کولی شي ټولنيز او سيمه‌ييز فشارونه رامنځته کړي . په همدې ډول ، ناڅاپي سېلابونه او نور غرني ناورينونه د کمزورو زيربناوو په شرايطو کې د اقتصادي زيانونو کچه لوړه وي .

له بلې خوا ، د افغانستان د اوبو سرچينې له ګاونډيو هېوادونو سره هم تړاو لري . کله چې د اقليمي بدلون له امله د اوبو اندازه او موسمي جريانونه بې‌ثباته شي، د ګډو سيندېزو حوزو مديريت د افغانستان په سيمه‌ييزو اړيکو کې لا زيات اهميت پيدا کوي . په دې توګه ، اوبه له يوه طبيعي عنصر څخه په جيوپوليټيکي سرچينې بدلېدای شي .

اوبه ډيپلوماسي او فرامرزي همکاري ؛

د افغانستان يو شمېر مهمې سيندېزې حوزې له ګاونډيو هېوادونو سره ګډې دي. له همدې امله ، د بالادست په برخه کې رامنځته شوې طبيعي پېښه ښايي په لنډ وخت کې د پولې هاخوا په لاندې سيمو کې اغېز وکړي . د نيپال تجربه ښيي چې د طبيعي خطر سرچينه کېدای شي د يوه هېواد په خاوره کې وي ، خو اغېزې يې د بل هېواد په خاوره کې څرګندې شي .



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

افغانستان باید د اوبه‌ډیپلوماسی (Water Diplomacy) مفهوم له دودیزو سیاسي خبرو څخه پراخ کړي . د ګډو سیندونو په اړه باید یوازې د اوبو د ویش مسئله مطرح نه وي ؛ بلکې د سیلابونو ، واورو ، یخچالونو ، طبیعي بندونو ، اقلیمي بدلون او هایدرولوژیکي معلوماتو شریکول هم د سیمه‌ییزې همکارۍ برخه وګرځي .

د معلوماتو چټک شریکول په ځانګړي ډول د غرنیو ناورینونو په مدیریت کې حیاتي اهمیت لري . که د یوه هېواد په بالادست کې د یخچال ماتېدنه ، ځمکښوېدنه یا طبیعي بند رامنځته شي، د لاندې هېوادونو لپاره د وخت پر سر خبرداری کولی شي د انساني تلفاتو او اقتصادي زیانونو کچه په پام وړ ډول راکمه کړي .

په دې معنا ، علمي اوبه‌ډیپلوماسي (Scientific Water Diplomacy) کولی شي د سیاسي اختلافاتو ترڅنګ د ګډو علمي او چاپېریالي ګټو پر بنسټ د باور د رامنځته کولو زمینه هم برابره کړي .

د افغانستان لپاره ستراتیژیکي سپارښتنې ؛

د نیپال د پېښې او د هندوکش د احتمالي خطرونو په رڼا کې ، افغانستان ته اړتیا ده چې د غرنیو او اقلیمي خطرونو لپاره یوه جامع ملي ستراتیژي جوړه کړي . په دغه ستراتیژۍ کې باید څو اساسي برخې شاملې وي .

لومړی ، د هندوکش د یخچالونو ، واورو ، پرمافراست ، ځمکښوېدنو او سیندونو دوامداره څارنه باید رامنځته شي.

دویم ، د احتمالي طبیعي بندونو او یخچالي جهیلونو منظم ثبت او نقشه‌برداري باید ترسره شي .

دریيم ، د سیندونو په مهمو برخو کې اتومات هایدرولوژیکي سټېشنونه او د اوبو د سطحې حسکوونکي نصب شي .

څلورم ، د GIS ، Remote Sensing، InSARاو سپوږمکیزو معلوماتو پر بنسټ د خطرونو ملي ډیټابېس جوړ شي .

پنځم ، د Multi-Hazard Early Warning System لپاره تخنیکي او اداري ظرفیت رامنځته شي .

له دې سره باید د خطرناکو درو ، استوګنیزو سیمو ، سړکونو ، پلونو او نورو حیاتي زیربناوو لپاره د خطر ارزونه ترسره شي . د ناورین د خطر کمول (Disaster Risk Reduction – DRR) باید د پراختیایي پلانونو برخه وګرځي ، نه دا چې یوازې د ناورین له رامنځته کېدو وروسته د مرستو په چوکاټ کې مطرح شي .

په نهایت کې ، افغانستان باید د اوبو امنیت ، اقلیمي مقاومت او ملي امنیت ترمنځ د پالیسی همغږي رامنځته کړي .

د اقلیم موضوع باید یوازې د چاپېریال ساتنې ادارو مسؤلیت ونه ګڼل شي ؛ بلکې د اوبو ، کرنې، انرژۍ، اقتصاد، زیربناوو او ملي امنیت په ستراتیژیکو پالیسیو کې باید شامله وي .

پایله؛

د نیپال وروستی مرګونی پېښه د اقلیمي بدلون په عصر کې د غرنیو طبیعي خطرونو د بدلېدونکي ماهیت یوه مهمه بېلګه ده . دغه ناورین یوازې د سخت باران نتیجه نه وه ؛ بلکې د یخچال د بدلون ، د غرونو د بې‌ثباتی ، د یخ او ډبرو د ښوییدنې ، د طبیعي آوارو بند د جوړېدو او ماتېدو او د ناڅاپي سیلاب د رامنځته کېدو د یوې زنځیري او مرکبي پروسې پایله وه .

د دې پېښې تر ټولو مهم درس دا دی چې په غرنیو سیمو کې اقلیمي بدلون یوازې د یخچالونو د کمېدو مسئله نه ده . دا کولی شي د طبیعي خطرونو ترمنځ اړیکې پیاوړې کړي او د داسې مرکبو ناورینونو احتمال زیات کړي چې د دودیزو سیلابي وړاندوینو له لارې یې اټکل ستونزمن وي .
د افغانستان لپاره دغه درس لا زیات اهمیت لري ، ځکه هندوکش د هېواد د اوبو د مهمو سرچینو طبیعي بنسټ جوړوي . د هندوکش د واورو او یخچالونو بدلون کولی شي په لنډ مهال کې د سیلابونو او په اوږد مهال کې د اوبو د کمښت خطر زیات کړي. دغه بدلونونه بیا په کرنه، انرژۍ، خوراکي امنیت، اقتصاد، مهاجرت او سیمه‌ییزو اوبو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

اړیکو اغېز کوي. له همدې امله، د افغانستان اقلیمي معضل باید یوازې د چاپېریال یا طبیعي پېښو د مدیریت مسئله ونه ګڼل شي؛ بلکې دا د اوبو، اقتصاد، جیوپولیتیک او ملي امنیت یوه ګډه مسئله ده .

د افغانستان د راتلونکي لپاره اساسي اړتیا دا ده چې له « ناورین وروسته غبرګون » څخه « ناورین مخکې چمتووالي » ته واوړي . د هندوکش د یخچالونو او واورو دوامداره څارنه ، د طبیعي بندونو او یخچالي جهیلونو نقشه‌برداري ، د سیندونو اتومات څارنه ، د GIS او Remote Sensing پراخ استعمال ، د Multi-Hazard Early Warning Systemجوړول او له ګاونډیو هېوادونو سره د اوبو او اقلیمي معلوماتو شریکول باید د ملي پالیسی مهمې برخې وګرځي .

په پراخ جیوپولیتیک مفهوم کې ، د افغانستان راتلونکی امنیت یوازې د سرحدونو، وسلو او سیاسي ثبات له مسئلې سره نه شي محدودېدای . د هندوکش غرونه ، واوره ، یخچالونه او سیندونه د افغانستان د ستراتیژیک امنیت یوه حیاتي برخه جوړوي. که د اقلیمي بدلون له امله د دغو طبیعي سیستمونو ثبات کمېږي ، د افغانستان د اوبو، اقتصاد او ټولنیز ثبات پر وړاندې هم فشار زیاتېږي .

له همدې امله ، د افغانستان لپاره اساسي پوښتنه دا نه ده چې « ایا په هندوکش کې به د نیپال په څېر یو مرکب غرنی ناورین رامنځته شي؟ » ؛ بلکې اصلي پوښتنه دا ده چې که داسې خطر رامنځته شي ، افغانستان به یې څومره مخکې کشف کړي، څومره ژر به خلکو ته خبرداری ورکړي ، څومره به چمتو وي او تر کومې کچې به یې د انساني ، اقتصادي او امنیتي زیانونو مخه نیولی شي .

د دغې پوښتنې ځواب به د افغانستان د راتلونکيClimate Resilience ، Water Securityاو National Securityپه ظرفیت پورې تړلی وي. په همدې معنا، د هندوکش ساتنه یوازې د چاپېریال ساتنې موضوع نه ده؛ بلکې د افغانستان د راتلونکي اقتصادي ثبات، اوبو امنیت، ټولنیزې تاب‌آورۍ او ملي امنیت لپاره یوه ستراتیژیکه اړتیا ده
.

په درناوی

سیف قاضی زاده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ